# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

*www.afgazad.com* *afgazad@gmail.com*

| *Political* | *سیاسی* |
|---|---|



لیکوال او شناند: نظرمحمد مطمئن

۲۵ سپتمبر ۲۰۱۵

# ښه جاسوس، بد جاسوس...د کلیمو بحران!

عجیبه هیواد مو دی، د تروریزم تعریف که څه هم د معلومو دلایلو له امله گونگ دی؛ خو دلته یې گونگوالی څکه ډیر نادر او عجیب دی، چې تېر څوارلس کلونه د «ترهگرۍ پر ضد» تر شعار لاندې جگړه وشوه، خلک ووژل شول، اقتصاد تباه شو؛ خو تر اوسه نه ترهگري تعریف شوه اونه هم ترهگر معلوم شول.

د شهید کلیمه دومره گونگه شوې، چې پخواني کمونستان* خپلو مړو ته شهیدان، پخواني مجاهدین چې مستحق هم دي البته هغه چې د روسانو او کمونستانو سره په جگړه کې وژل شوي هغوی ته شهیدان، دا ډول جهادي مشران په کابل کې د خپلمنځې جگړو پر مهال دواړه لوري خپلو مړو ته شهیدان، د خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ کوم یو چې مړی شوی هغوی ته شهیدان، د طالبانو سره د شمال ائتلاف کسان چې ووژل شول هغوی خپلو کسانو ته شهیدان، طالبانو خپلو ملگرو ته شهیدان، د ناټو تر چتر لاندې د امریکا په قومانده چې کوم کسان د طالبانو سره په جگړه کې ووژل شول هغوی ته شهیدان، او بیا هم طالبان خپلو کسانو ته شهیدان، اربکیان چې ملایان یې جنازه او دفن مراسمو کې برخه نه اخلی هغوی ته شهیدان او بالاخر دا د شهید خبره خو هغوی ته هم وکاریدله چې په خپل مرگ په کابل کې مړه شوي.

عبدالرشید دوستم خو د شهید په کلیمه کې دومره سخا لري چې هغه امریکایان هم شهیدان گڼي چې په افغانستان کې د طالبانو سره په جگړه کې وژل شوي، دا ډول په اسپانیه کې یو جهادي مشر هم د ناټو مړو ته د شهیدانو نوم کارولی و، حضرت صاحب بیا د ناټو عسکرو قربانیانو ته احترام لري.

مجاهد کلیمه همداسې ده، پخواني مجاهدین چې د طالبانو څخه تښتیدلي وو، چې کله هغوی د امریکایي بي۵۲ الوتکو په زور بیرته راپیداشول بیا یې خپلو منځونو کې ځانونو ته «مجاهدین» ویل او کله چې ځینو پخوانیو مجاهدینو له امریکایانو سره په اډو کې دنده درلودله نو کورنیو یې بیا هم دوی د مجاهدینو په نومونو یادول. په ملي اردو، ملي پولیسو کې هم ډیری کسان اوس هم خپلو ځانونو ته د «مجاهد» لقب کاروي، یواځې داسې نه ده شوې چې د مجاهدینو ملي اردو او د مجاهدینو ملی پولیسو نوم وکارول شي، دا کار به یې هم کړی وای خو اوس پخواني کمونستان او پخواني مجاهدین گډ په اردو او پولیسو کې په یوه سنگر کې د طالب د ورکولو له پاره وسله په لاس کې لري.

اربکیان بیا تر ټولو زیات خپل ځانونه مستحق بولي او د مجاهد نوم د ځان له پاره اوس هم ویاړ بولي، د اندړو اربکیان رښتیا هم پخواني مجاهدین و، خو اوس چې د پیتریوس د پلان له مخې د ورور وژنې له پاره دغه پروژه پیل شوې بیا هم ځانونه مجاهدین گڼي.

طالبان هم اوس د طالب نوم خپلو وسلوالو ته نه کاروي، همدا دی په خپلو اختریزو او نورو پیغامونو کې د «مجاهدینو» نوم خپلو وسلوالو ته کاروي، او وایي چې مشران یې د ملامحمد عمر مجاهد او ملا اخترمحمد منصور په ګډون پخواني هغه «مجاهدین» دی چې له روسانو سره یې جهاد کړی دی.

## د لاسپوڅي او جاسوس د تعریف نشتون

غلام، مزدور او جاسوس هغه کلمې دي چې په بېلابېلو وختونو کې یو بل ته کارول شوي، پخوانیو کمونستانو پخوانیو مجاهدینو ته د آی ایس آی او پاکستان غلامان، اشرار او مزدوران ویل، دا ډول پخوانیو مجاهدینو پخوانیو کمونستانو ته د کې جي بی او شوروي اتحاد لاسپوڅي، بریڅي او لاس په نوم ولاړ غلامان ویل. د کمونیستي رژیم چارواکو ځکه مجاهدین اشرار او د پاکستان غلامان بلل، چې د هغوی تنظیمونه په پاکستان کې فعال وو، د امریکا له خوا شوې مرستې آی ایس آی جهادي قومندانانو ته ورکولې. کاجي بي ته د کمونیستانو غلاني خو نو ډېره ښکاره وه.

ښاغلي حکمتیار بیا د جمعیت اسلامي مشر استاد برهان الدین رباني او د نظار شورا مشر احمدشاه مسعود د روسانو سره پر معامله تورنول او مسعود یې د فرانسي لاسپوڅی هم ګاڼه، بل خوا بیا احمدشاه مسعود ویل چې حکمتیار د آی ایس آی نږدې دوست او ملګری دی.

استاد سیاف بیا همدي پخوانیو مجاهدینو پر وهابیت پړ باله ، ویل به یې چې عربو ته یې ځان عمر ثالث جوړ کړی او له همدې امله و چې په یو وار د اسامه بن لادن صفت کولو سره، چې د هغه ډېر صفت یې وکړ چې د ځاځیو جګړه اصلا اسامه بن لادن رهبري کړې او ګټلې، د پېښور ښار د ابو مآذن کور کې اسامه بن لادن له همدې امله د سل زره د وریجو بوجی او دا ډول د یو میلیون ډالرو نقد چیک استاد سیاف ته ورکړ. نن چې استاد سیاف د خپلو اوسنیو مخالفینو په ټکولو کې ډېر توندلاری دی او په ډېرې سادګی سره یې تکفیروي، دغسې یې پرون پخوانی پاچا، ظاهر خان هم وخت ناوخت تکفیراوه. د استاد سیاف سیاسي ارواپوهنه دغه ډول ده.

کله چې پخواني مجاهدین کامیاب شول خبره تر دی راورسیدله چې د یو او بل پر ضد د جګړې کولو له پاره یې د جهاد فتواوې ورکولې، په داسې حال کې چې له ښکیلو لورو سره به هره خواکې پخواني کمونستان هم د جګړې په ډګر کې جنګیدل. استاد سیاف هغه مهال د استاد رباني حکومت د پیغمبر صلی الله علیه و سلم له هغې غزوې سره مشابه باله، چې د قریشو قبیلو یې پر ضد ایتلاف کړی و. هغه غزوه له همدې امله د «احزاب» (ډلو) په نامه نومول شوې وه. استاد د استاد رباني د حکومت مخالفین د قریشو له «احزابو» سره ورته بلل.

جاسوس هم هغه د تروریزم په ډول له موږ څخه یې خلکو تعریف ورک کړی دی، ښه جاسوس، منلی جاسوس، بد جاسوس، محافظه کاره جاسوس، مضر جاسوس، په حکومت کې دننه جاسوس، د حکومت دباندې جاسوس، د غني د ډلې جاسوسان، د عبدالله د ډلې جاسوسان، د طالبانو جاسوسان او د حکمتیار جاسوسان. د جاسوسانو دومره تعدد او ګڼوالی ربښتیا هم د واحد تعریف بحران رامنځ ته کوي.

خو د ناټو قواوو د جاسوسانو نوم څوک نه اخلي، د امریکا او بریتانیا د سفارتونو د جاسوسانو نومونه څوک نه اخلي، د روسیې او ایران د جاسوسانو نوم څوک په خوله هم نه راوړي، د فرانسي او جرمني جاسوسان خو بیخي پکې ورک دي، د هند جاسوسان چې ورځ تر بلې ډیریږي ممکن نه ده چې څوک به یې نوم واخلي. دلته ده چې مسئله لا پسې پېچلې شي. جاسوسي، جاسوسي ده، که امریکا ته وی او که پاکستان ته یې څوک کوي.

ځکه چې ځینې پخواني مجاهدین او ځینې پخواني کمونستان په ګډه د یادو هیوادونو جاسوسي کوي، بل داچې ناټو شتون لري، امریکایي پوځیان همدلته کابل او نورو ولایتونو کې میشت دي، د همدې جاسوسان بیا ډېر ښه جاسوسان دی، په کار نه ده چې د جاسوس نوم ورته یاد شي، باید ورته وویل شي چې دوی د بهرنیانو «ډېر ښه ملګري» دي او

بهرنیانو ته د اوس له پاره منلي دي، داچي په راتلونکي کي به يي سرنوشت څه ډول کيږي وخت ته انتظار کوو، ځکه بهرني قوتونه تر ټولو لومړی خپل جاسوسان شړي. د امریکایانو په اړه دا خبره مشهوره ده، چي تر دښمنانو يي د دوستانو عمرونه کم وي!

### د آی ایس آی غلام څوک وو؟

يو پخوانی طالب مشر وايي چي يوه ورځ حضرت صبغت الله مجددي پر طالبانو ډير ولګيدی، ويل يي چي د پاکستان د آی ایس آی جاسوسان دي، هغوی روزنه ورکوي، هغوی يي راليږي، بيا حضرت صاحب له پخوانيو طالبانو د خپلي خبرې تاييد هم غوښت، يوه ورته وويل چي دا سياسي بحث دی موږ فاتحي ته راغلی يو، دا بحث وخت ته اړتيا لري چي خپلواک او بلواک څوک دي. بل ورته وويل چي فرض کړه دابه ټول ستا سره ستا په خوله ومنو، ستا د زړه له پاره او دا چي ستا په کور کي ناست يو، ستاسي د ورور د فاتحي له پاره راغلي يو، خو بيا هم چي ته خفه نه شي زه مخکي له جواب څخه څو پوښتني لرم:

تاسي خو جهاد کړی؟ حضرت صاحب ويل هو. تاسي خو پاکستان کي واست، حضرت ويل هو، تاسي خو له پاکستان څخه وسله اخستله؟ حضرت ويل هو. تاسي سره خو امریکا هم مرسته کوله؟ حضرت ويل هو بالکل دا خو نړيوال جهاد و. تاسي سره خو آی ایس آی هم نږدي رابطه او کلکه ملګرتيا لرله؟ حضرت ويل هو آی ایس آی خو له موږ سره هغه وخت کي ډيره مرسته کړې او موږ ورڅخه مننه کوو، ځکه دا جهاد يوازې د افغانانو نه و. تاسي ته خو پاکستان په پنډۍ ښار کي موقت حکومت جوړ کړو؟ حضرت ويل هو، پاکستان له موږ سره مرسته وکړه. تاسي خو پر تورخم پاکستاني پوځيانو او د آی ایس آی کسانو د افغانستان خاوري ته راواړولئ چي کابل ته ولاړشئ او هلته ارګ ته ورشئ؟ حضرت ويل هو هغوی موږ ښه بدرګه کړو.

پخوانی طالب: نو بيا تاسي ولي د دغه بدنام آی ایس آی سره دغه رابطه شروع او نورو ته مو دغه بده لاره پريښودله، پيل يي تاسي مجاهدينو وکړ اوس يي پړه پر بل چا اچوئ؟ حضرت حيران شو، مجلس ګډ وډ شو.

پخواني طالب ورته وويل چي حضرت صاحب! تاسي پر نورو هم د خپل ځان ګومان کوئ، تاسي چي غلامي کوله، د مادياتو او واک ترلاسه کولو موخي مو لري، طالبانو خو خپله ټوله پاچاهي د اسامه بن لادن چي تاسي ته يي مرستي درکولي او ستاسي څخه په ميراث طالبانو ته پاتي و، د هغه امریکا ته د نه تسليمی له امله يي هرڅه له لاسه ورکړل، بيا نو څه ډول ووايو چي غلامان دي، غلام تاريخ هيڅکله نه بخښي!

زه هيڅکله هم پخوانيو مجاهدينو ته د آی ایس آی غلامان نه وايم، که دا خبره ومنو نو بيا ټير جهاد له روسانو سره د آی ایس آی جګړه ده چي پخواني کمونسټان يي دعوه لري، لکه اوس چي پخواني مجاهدين همدا خبره کوی چي طالبان د آی ایس آی له پاره جګړه کوي.

اوس چي په حکومت کي د ننه د جاسوسانو خبره کيږي، زه يي منم، خو جاسوس څوک دی؟! آيا همدا خلک چي د جاسوسانو خبره کوي دوی د کوم چا جاسوسان نه دي؟! دوی پخوا په ګاونډيو هېوادونو کي مېشت نه وو، نه روزل کېدل، نه اکمالېدل، دلته يي د خلقيانو پر ضد جګړه نه کوله؟!

### د جاسوسانو په نښه کيدو حق له چا سره دی؟

راځئ واضح يي ووايو، که خبره د جاسوسانو وي موږ له اسلامي کانفرانس او په ځانګړي ډول له ازادو او مستقيلو افغانانو او خاص ډول د نوی نسل ځوانانو څخه په کلکه غوښتنه کوو هر هغه چا چي د جهاد له وخت څخه بيا تر

اوس وخت پوري د آی ایس آی معاش اخستي وي، هغوی باید ونیول شي، محاکمه شي او د آی ایس آی څخه د معاش اخستلو پوښتني او ګرویژني ورڅخه وشي.

هغه چا چي د ایران له سفارت څخه د امتیاز په نوم پیسي اخستي وي چي ارګ هم پکي راځي، باید همدا جاسوسان افشاء شي، محاسبه ورسره وشي.

هغه چا چي د هند له سفارت څخه پیسي اخستي وي، او یا افغان مشرانو زامن چي هند کي د سکالرشیپ دلاري زده کړی کوي ځینو به یي د هند له استخباراتو پیسي اخستي وي، باید خبره ورسره سپینه شي.

هغوی چي د ترکانو څخه پیسي اخلي او پان ترکیزم ته کار کوي، د ترکیي په پیسو یي ولسي جرګي او د حکومت لوړو چوکیو ته لاره پیداکړي باید پوښتنه ورڅخه وشي.

د امریکا سفارت، د بریتانیا سفارت، د فرانسي سفارت، د جرمني سفارت چي چاته هم پیسي ورکوي نوشي جان دی شي، سرې سترګي دي ګرځي هیڅوک د پوښتني کولو حق ورڅخه نه لري، هغوی منلي جاسوسان دي، ښه جاسوسان دي، او د دي نورو وروسته پاتي هیوادونو د جاسوسانو باداران دی، جاسوس د جاسوس بادار، مزدور د مزدور بادار.

دلته د مسلمانو او غیر مسلمان هیوادونو د جاسوسانو خبره ده، پام چي د غیر مسلمان هیوادونو جاسوسانو سره ټکر ونه کړئ، پر هغوی خپل غلامان تر هغه وخت پوري ډیر ګران وي تر څو چي ورڅخه کار اخلي، که افغان ځوانان په دی تمه وي چي افغان حکومت به د جاسوسانو لستونه افشاء کړي، هغوی به څنګه داکار وکړی، ځکه په حکومت کي دننه ډیری مشران د نورو لاسپوڅي دي.

ارګ کي به داسي ډیر کسان اوس هم شتون ولري چي له پاکستان سره نږدې اړیکي لري، مهرباني دي وکړي هغه دي افشاء کړي، د غني ډله او د عبدالله ډله، او دا دي هم ووایي چي د ولسمشریزو ټاکنو د کمپاین پرمهال یي څومره پیسي له پاکستان څخه ترلاسه کړي دي.

سنا کي به هم داسي کسان وي، خو بدبختي داده چي جاسوس تر ټولو لوړې خبرې کوي او نور ازاد خلک پر جاسوسي متهم کوي، په ولسي جرګي کي هم د ایران او پاکستان جاسوسان کم نه دي.

که دا نور ټول ښه جاسوسان وي، یواځي مولوي قلم الدین، مولوي عبدالحکیم مجاهد او مولوي حبیب الله فوزي ناروا جاسوسان وي، یا له دي نامه څخه په استفادې ټول هغه پخواني طالبان چي د کرزي د ځینو مهارتونو له کبله اوس په کور ارام ناست دي، هغوی ته لومه جوړول وي او له هیواده شړل وي دا نو بیا د جاسوسي خبره نه ده، د غني د حکومت د رنګېدو او پاکستان ته د امتیاز ورکولو لومه ده.

ولي د پخواني ولسمشر کرزي په لومړي وختونو کي او بیا هم د امنیتي تړون اړوند لویي جرګي جوړیدو مخکي داخبرې چا نه کولي؟ اوس چي دوی خپل واک له لاسه ورکړی، او غني له واکه لیري کړي، همدا خبرې کوي، تر څو دغه نیم ولاړ حکومت نور هم کمزوری شي.

موږ د هر جاسوس بد وایو، او هر څوک چي له هیواد او ولس سره جفاء کوي، د افغانانو جاسوسي کوي، الله ج دي په دنیا او اخرت کي شرمنده کړي، او همداسي کیږي، دا د الله ج سنت دي، خو داچي د خپلو سیاسي ګټو له امله ددي له پاره چي د غني له حکومت سره ستونزه ولري او منګی د طالب پر سر ورمات شي دا یو ډول بې عدالتي ده، دوی دی مهرباني وکړي د نر غوندي دي یو بل ته ښکر په ښکر شي، ولي نور دی زموږ مظلوم هیوادوال د پاکستان منګولو ته نه اچوي.

**د جاسوس په جامه کي بادار**

دغه د جاسوسانو په جامه کې باداران دي نور هڅه نه کوي چې بیا هم زموږ ځیني افغانان په لوی لاس د پاکستان د آی ایس آی جاسوسي ته مجبوره کړي.
زه باوري یم چې بیا هم هڅه کیږي او دابه ممکن د پاکستان په خوښه لوبه وي، چې ځیني هغه خپلواک او ازاد افغانان چې پاکستان ته مطلوب دي، د پاکستان جاسوسان به یې پر دي تورنوي چې د آی ایس آی جاسوسان دي او په دې ډول به دغه ازاد او په هیواد مین افغانان هم د آی ایس آی د جاسوسانو په مکارتوب سره د پاکستان بدنامي اداري ته او پاکستان ته د تلو له پاره اړ کیږي.
خوند او لذت په ازادی کې دي، امید دی چې ټول هغه کسان چې په ښکاره یا پټه او یا ناپوهی کې د نورو جاسوسي کوي، ځانونه له جاسوسي او پردیو هیوادونو د جاسوسي لوبو د عملي کولو څخه خلاص کړي، د هیواد د یو موټې او سولې او امن له پاره کار وکړي. تاریخ کې ډېرې خبرې سر له اوسه ثبت دي او د ډېرو په اړه ډېرې خبرې شته، ان د هغو په اړه چې نن پر نورو تورونه پورې کوي.

**یادداشت:**

همان طوری که قبلاً بار ها نوشته ایم، ناگزیریم باز هم بنگاریم:
از دید ما خلق و پرچم را کمونیست نامیدن، گذشته از آن که نمودی از سطحی نگری و عوامزدگی نویسنده را می رساند و به وضاحت نشان می دهد که مدعی چنین ادعائی نتوانسته خود را از حیطۀ تبلیغات "سی. آی. ای" و مکتب ضد انسانی "مک کارتیزم" برهاند، فقر دانش خود را در قبال شناخت از کمونیزم نیز فریاد می زند.
ما بار ها نگاشته ایم و جای دارد بر نگاشته هایمان بار دیگر تأکید بورزیم، که جاسوس، مزدور و عوامل استخباراتی هیچ قدرتی، نه دین دینی را نمایندگی می کنند و نه هم آئین و یا طرز تفکری را. چنانچه این ادعا حقانیت خود را در مورد بقایای خلق و پرچم و احزاب اخوانی، به وضاحت نشان داد؛ بدان معنا که به محض تغییر عقیدۀ این یکی و یا هم تغییر تعلقات آن دیگری، هم خلق و پرچم و هم نیروهای اخوانی و مدعیان "اسلام ناب محمدی" سر از گریبان "سی. آی. ای" و نهاد های استخباراتی مشابه در آوردند.

ادارۀ پورتال AA-AA